مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۳/۰۹/۰۷

# خواجه ابوالقاسم احمد بن حسن میمندي

## او د پښتو الفبې په ترتیب یا سمون کې د هغه ونډه

## (دوهمه تکمله)

پر دې موضوع ما څو ورځې ترمخه یوه لیکنه کړې ده خو اوس چې ښاغلي جهاني د" بیاهم د احمد بن حسن میمندي په باب" په خپرولو سره ګویا زما د لیکنې جواب ویلی دئ، مجبور یم د یو لړ حقایقو په اړه د درنو لوستونکو پام راواړوم. د جهاني صاحب دا لیکنه هم دده د نورو لیکنو په شان متناقضې خبرې او د کمزوري استدلال پر بنا غبټ حکمونه لري چې سپنل ئې زما په فکر لازمي دي. دده لیکنه د اوسني کمپوز له مخې پنځلس پاراګرافه ده چې وروستي اته پاراګرافه ئې له موضوع څخه وتلی بحث دئ او د حسن میمندي په بحث اړه نه لري. د قیس عبدالرشید او خرښبون نکلونه ئې بیان کړي دي چې په دغه اړه ما (هوتک) مستقل کتاب" پښتني قبیلې او روایتي شجرې" کښلی دئ چې په همدې افغان جرمن ویبپانه کې پروت دئ. لوستونکي دې لطفاً هورې وګوري. زه په دې باب له ښاغلي جهاني سره په یوه نظر یم.

د پښتو الفبې په باب په تېره لیکنه کې ئې زما معروضات د خپل همېشني عادت له مخې سرسري کتلي دي او ځان ئې په پوه کړی نه دئ. ما هورې د قاضي خیرالله روایت بې حوالې روایت بللی دئ او د نوو مدارکو تر موندلو پورې مې د انتظار خبره کړې ده.

ښاغلی جهاني د خپلې جوابیه لیکنې په پیل کې د احمد بن حسن میمندي په اړه زماد تېر مضمون په باب لیکلي دي چې " حقیقتاً ... مغتنم او علمي مضمون" دئ. ما ته د حیرانتیا ځای دا دئ چې که زما لیکنه " مغتنم علمي مضمون" وي، نو د سالم قضاوت غوښتنه خو دا ده چې باید ومنل سي او محتویات ئې رد نه سي. که ئې محتویات د ردولو وي او د منلو وړ نه وي، نو دغه راز لیکنې ته " مغتنم او علمي مضمون" ویل به څه معنا ولري؟ هیله ده ددغه تناقض ګویي جواب پخپله جهاني صاحب ووایي.

وروسته ئې زما څخه له دې اسېته د" متقابل احترام" غوښتنه کړې ده چې ما په تېره لیکنه کې دده " شکاک عادت" ته اشاره کړې وه. د شکاک کلمه ئې د ځان په حق کې بې احترامي بللې ده او (!) نخښه ئې ورته ایښې ده. تر دې جملې وروسته ئې بیا کښلي دي :" ... زه په دې عقیده یم چې د لیکل سویو متونو په باب شک ځرګندول ډېر بد کار هم نه دئ او که د لیکل سویو متونو په باب شک ځرګند نه کړو نو باید تولې لیکنې په پټو سترګو ومنو او د تحقیق لپاره زمینه نه پاتېږي". زه هم په همدې عقیده یم چې په پټو سترګو باید متونو ته غاړه کښېږدو. جهاني صاحب د خپلې لیکنې په پای کې حتی تولو څوانانو ته د یوه سپین ږیري په توګه توصیه کوي چې له قرآن شریف پرته نورو تولو متونو د شک په سترګه وګوري.

د جهاني صاحب تناقض ګویي په دې ځای کې ده چې که شک ځرګندول ډېر بد کار نه وي، نو بیا د شکاک کلمه ولې دی د ځان په حق کې بې احترامي بولي؟ ښایي مراد به ئې دا وي چې دده د لیکنو په باب باید شک ځرګند نه سي او د نورو آثارو په باب شک ځرګندول ډېر بد کار نه دئ. ددې تناقض جواب دې هم ښاغلي جهاني ته پاته وي.

تر دې وروسته ئې میوند ته له هرات څخه د حسن میمندي د جسد را انتقالول د هغه وخت په شرایطو کې له " نامکناتو" څخه بللي چې بیا هم هسې هوایي خبره ئې کړې ده. د جنازو انتقال له " نامکناتو" څخه نه دي. د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري مړی ئې د امیر شیرعلیخان په امرله پېښور څخه کابل ته راووړ او د امیر ولیعهد زوی شهزاده عبدالله جان او د دربار یوه لو ډله " یک لنګه کوتل" ته د احترام له پاره ور وتلې وه او جنازه ئې په شهدای صالحین کې د بالاحصار د شرقي دروازې په خوله کې خاورو ته وسپارله ( وګ : د لیکونک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کتاب " صدراعظم سید نورمحمد شاه پښتینی کندهاری ، ۸۵مخ ، ۲۰۲۱ع ، کندهار) د پېښور ـ کابل او هرات ـ میوند تر منځ فاصله تقریباً سره ورته واټن دئ. هغه وخت له پېښوره کابل ته نه د رېل خط وو، نه الوتکي وې، نه یوویشتمه پېړۍ وه. هغه وخت ئي دغه راز انتقال د ښاغلي جهاني په برداشت چا " لویه ګناه" نه بلله. نو د احمد میمندي د جنازې انتقال به ئي ولي لویه ګناه بلله؟ په همدې ارتباط ښاغلی جهاني لیکي چي میوند ته د حسن میمندي (احمد بن حسن میمندي . م. هـ) د مړي د انتقال ضرورت څه وو؟ ددې پوښتني جواب خو نو باید د عبدالرزاق میمندي ورکړي او هغه لس پېړۍ ترمخه وفات سوی دئ. خو که زه ځان ته د جواب ورکولو حق ورکړم، نو وبه وایم چي ددې مړي د انتقال ضرورت دا وو چي میوند ئي ابایي کلی وو. دلته ئي باغ و پټی، قصر و ماڼۍ ودان کړي ول.. جهاني صاحب خو په میوند کي د احمد بن حسن میمندي ماڼۍ هم نه مني. دده په نظر به عنصري بلخي چي ددې باغ و ماڼۍ په باب درنه قصیده ویلې وه، هغه به هم جعلي وي. خلکو به په ناحقه سره عنصري ته منسوبه کړې وي!!
ددې قصیدې په باب زه په لومړۍ تکمله کي رغېدلی یم، تکرار ئي لازم نه بولم.
ددې ماڼۍ په باب ښاغلي جهاني پوښتنه کوي چي " [چا]د هغو پادشاهانه قصرونو څخه یوه نښه یا یوه خښته تر اوسه پوري لیدلې ده؟" د تحقیق سرسري توب همدې ته وایي چي د یوې موضوع په باب څوک معلومات نه لري نو ئي پر موجودیت کوږت ناګاره سي. زه به له ښاغلي جهاني صاحب څخه پوښتنه وکم چي تاسي په دې باب څېړنه کړې ده؟ نه مو ده کړې. که مو کړې وای، دغسي هوایي خبره مو نه کوله. بلي، هو! خښته لا څه کوې د دغه قصر بسته غونډۍ پاته ده چي په جسامت کي د کندهار د زاړه ښار د نارنج ماڼۍ د موجودو کنډوالو په اندازه ده. دا غونډۍ ما ( هوتک) له خپلو ملګرو سره سرکال د جولای پر لسمه وکتله. د غونډۍ شاخوا باغ چي احمد بن حسن میمندي ودان کړی وو، په دې لسو پېړیو کي په زراعتي کروندو بدل سوی دئ.



د کندهار په میوند کي د غزنویانو د عصر کنډوالي
(عکاسي : ۱۰ جولای ۲۰۲۳ع)

که د احمد بن حسن میمندي په لاس ودان سوی قصر و باغ د کندهار په میوند کي نه وو، نو به په کوم میمند کي وو؟ دا تحقیق باید ښاغلی جهاني کړی وای. د محقق وظیفه دا نه ده چي شکوک ایجاد کړي، بیا نو خپل شک په جیب کي واچوي او د حل وظیفه ئي نورو ته پرېږدي. ته چي احمد میمندي د کندهار د میوند نه بولي او په دې ډول غواړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ځوانان له ګمراهۍ وژغوري، باید دا خبره هم ورته واضح کړي چي احمد میمندي د کوم میمند وو؟ عنصري بلخي چي په میمند کي د خواجه احمد د باغ او قصر په توصیف کي قصیده وایي، دا قصر و باغ چیرته وه؟ که دا خبره څېړلای نه سي او هسي د خپل اعتیاد له مخي هر څه ته په شک ګوري، نو دا خو تر بل هر چا ته پخپله د ځوانانو د ګمراهۍ سبب یي.
جهاني صاحب د کندهار میوند ته د میمند نوم ورکول " اوسنی اصطلاح " ګڼي او څو ځایه ئې کښلي دي چي " په اوسنی اصطلاح میوندي". لوستونکی داسي انتباه اخلي چي له میمند او میمندي څخه د کندهار میوند مفهوم اخیستل نوې جوړه سوې اصطلاح ده او دی ئې منلو ته تیار نه دئ. دی د خپلي بې معلوماتی پر بنیاد تحقیق غواړي په نور چا هم ومني. زه به تاسي لوستونکو ته له نن څخه .پنځه سوه کاله پخوا سند راوړم چي د کندهار میوند او " میمند" ئې یوه سیمه بللي ده .راته غوږ سئ :
د کندهار د زاړه ښار د سلطان ویس بابا په زیارت کي له قدیمه څخه یو ډېرین دېګ پروت وو چي د غازي امان الله خان په امر په ١٣٠۶ ش کال د لوی احمد شاه بابا د زیارت له غالیو سره یو ځای د کابل موزیم ته نقل سو. پر دغه دېګ باندي یوه وقفنامه کيندل سوې ده چي له اوقافو څخه ئې د زاړه کندهار د یوې لویې مدرسي لګښتونه برابرېدل. دا دېګ پنځه منطقي لري او په هره منطقه کي راغلي عبارتونه ټول ددغي مدرسي د اوقافو تشریح او توضیح ده. د دېګ د پنځو سرو منطقو عبارتونه د طلوع افغان اخبار د ١٣٠۶ش کال د جوزاپه ١۴ مه ګڼه ( شپږم کال ۵۴ ګڼه) کي چاپ سوي دي. د دېګ پر دننه ژۍ ئې تاریخ داسي راوړی دئ:

ساخت تاریخ آن بدین تقریب
کاتب العبد" جای شربت آب"

د " جای شربت آب" ابجدي ارزښت ٩١٩ هـ ق کېږي.

د دېګ په دو همه منطقه کي ئې د نورو ځمکو او کاریزو د وقف په ترڅ کي کښلي دي :" همګی و تمامی این ده قناتی موسوم به (دهک) واقع در میانه میمند و کوشک نخودو همګی و تمامی قنات چهل ګزی که قریب کوشک نخود واقع است ..." دغه د میمند او کوشک نخود تر منځ لس کاریزونه له اوسني میوند پرته بل چیري واقع ول؟ کوشک نخود ته نژدې کوم میمند پروت دئ؟ د کندهار میوند؟ که د پارس شپږ میمندونه؟ د میوند او کوشک نخود تر منځ اوس هم لس کاریزونه سته چي د اوسنیو وچکالیو له اسیته وچ سوي دي. دا کاریزونه له نن څخه درې لسیزي پخوا ټول ډېک بهېدل او د میوند کروندي په اوبېدلې. په ډېرین دېګ کي ئې میوند ته " میمند" ویلی دئ او میوند ته د میمند نوم ورکول نوې اصطلاح نه ده بلکي پنځه سوه کاله پخوا سابقه ئې په ډېره کي کيندل سوې ده.
جهاني صاحب زما پر یوه عبارت باندي چي له تاریخ بیهقي څخه مي رااخیستی دئ، اعتراض لري او پر ما تور لګوي چي امانت مي نه دئ ساتلی او د بیهقي د متن" یکان" مي " لګان" کړی دئ. دلته ئې بیا د خپل سرسري تحقیق ثبوت پرې ایښی دئ. دی دا فکر کوي چي هر چا ته باید د بیهقي تاریخ هغه چاپ پروت وي چي دی ئې پخپله کتابخانه کي لري. ما په خپله لیکنه کي یوه لنډه اشاره غوندي ورته کړې ده چي د بیهقي تاریخ هغه مخ چي دی ئې (۶٣١) بولي زما د استفادې په چاپ ۶٨١ دئ. ما فکر کاوه چي دی به زما له دغي اشارې څخه پوه سي چي زما او دده د استفادې چاپونه سره بېل دي. خو دی د خپل عادت له مخي پر دغه ځای سرسري تېر سوی دئ او تحقیق ئې تر سر تېر کړی دئ. د بیهقي تاریخ یو وار د استاد سعید نفیسي (١٢٧۴ــ ١٣۴۵ش) له خوا، بل وار د دکتر علی اکبر فیاض (١٢٧٧ــ ١٣۵٠ش) له خوا چاپ سوی دئ. یو بل چاپ ئې چي د" سنګي چاپ" په نامه شهرت لري، د مرحوم ادیب پشاوري ( ١٢۶٠ــ ١٣۴٩هـ ق) په تصحیح خپور سوی دئ. له جهاني صاحب سره ئې زما خیال دئ د استاد سعید نفیسي چاپ سته. ما د دکتر علي اکبر فیاض له هغه چاپه استفاده کړې ده چي د افغانستان د کلتور د دولتي کمیټې د نشراتو ریاست له خوا په ١٣۶۴ش کال د ۶٠٠٠ ټوکو په تیراژ چاپ سوی دئ. . د تاریخ بیهقي په دې درو سرو چاپي او یو شمېر نورو خطي نسخوکي د دشت لګان لیکنه د" بکان، یکان، لنګان" په شکل ثبت ده. د استاد سعید نفیسي ثبت ئې " یګان" دئ او د دکتر فیاض ثبت ئې " لنګان" دئ. د ټولو وروستیو محققینو اجماع پر " لګان" باندي ځکه راغلي ده چي فرخي سیستاني او عنصري بلخي پخپلو قصیدو کي په دغه راز نامه راوړی دئ. د فرخی سیستانی د قصیدې د قافیې کلمات " سیستان، اسمان، روان،ښان، نامهربان،همداستان، مدان، زبان، زمان ، ...." دي. د عروضو پوهانو ددغي قصیدې په عروضي تقطیع کي د بیت آخر رکن "فاعلان" بللی دئ چي په دغه رکن کي " لنګان" نه ځایيږي او باید "لګان" وي. د یکان، بکان، لنګان لیکنه ئې د کتابت په تېروتنو کي راوړې ده او " لګان" ئې ځکه صحیح بللی دئ چي په همدې نامه اوس هم د لښکرګاه ښار یوه ناحیه سته چي" کارته لګان" ئې بولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ


...هزار بود .
امیر رضی الله عنه روز ِ دوشنبه بیست و پنجم ِ ماه ِ ربیع...
...ن آباد و میمند رفت بتماشا و شکار . و خواجه عبدالر...
بمیمند میزبانی کرد چنانکه او دانستی کرد ، که در[4] همهٔ
یگانهٔ روزگار بود ، و دندان مزد بسزا داد ، و وکیلانش بسی...
قومی را که با سلطان بودند . و امیر بدان[5] بناهای ِ پادشاها...
احمد ِ حسن ساخته‌است رحمة الله علیه بمیمند بماند ،
...به[6] چهارم جمادی‌الأولی بکوشک ِ دشت ِ لگان[7] بازآمد .
...رسید بگذشته شدن ِ ساتلمش حاجب ِ ارسلان[8] . و ا...
...ه بود و شحنگی ِ بادغیس فرموده بحکم ِ آنکه بروزگار ِ ام...
...ر بود و نخست کس او بود که[9] از خراسان پذیره رف...
...عود و چندین غلام ِ ارسلان را با خویشتن برد چنانکه
...وز ِ یکشنبه هشتم ِ این ماه بوسعید[10] محمود ِ طاهر

...ی کند ، ضمیر راجع به‌وزیر است ظ .

د بيهقي تاريخ د کابل چاپ ۶۸۱مخ
" لګان" د پای له خوا په شپږمه کرښه کي راغلی دئ

د بيهقي تاريخ چي په ۱۳۶۴ش کال په کابل کي چاپېدئ، هم د همدغي اجماع له مخي " لکان" ثبت کړی دئ او ما د امانت په حکم همداسي را اخيستی دئ. ګويا د جهاني صاحب د امات ساتلو توصيه دلته بېځايه ده. ما ته خو د امانت ساتلو توصيه کوي خو پخپله ئي له " قاضي خيرالله" څخه " ملا خيرالله" جوړ کړی دئ. د امانت ساتلو وظيفه يوازي زمونږ خوارانو ده. دی ئي په ساتلو مکلف نه دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

تر ټولو حيرانوونکي خبره دا ده چي وايي" دشت لګان به، که خدای درواغجن نه کړم ، زموږ خپله اختراع وي".
سبحان الله! د دشت لګان له موجوديته هم منکر سو او دائي زموږ خپله اختراع وبلله. شکاکيت چي د مزمني ناروغی درجي ته ورسېږي، په چا دغسي کاني کوي.
د دشت لګان په باب درنو لوستونکو ته ددې لاندي کتابو د مراجعي تکليف ورکوم. د ټولو د نقل قولونو را اخيستل به هم ما او هم دوی ستړي کاندي:

ــ لغتنامه دهخدا
ــ حبيبي ،جغرافيای تاريخی افغانستان
ــ شريف الله دوست سروانی،لرغونی هيلمند
ـ احمدعلي کهزاد،لشکرګاه. کوشک سلطنتی غزنويان در دشت لګان.
ـ د سيستاني صاحب بېلابېلي څېړني

دوی ټولو دشت لګان بُست ته نزدې دښت بللی دئ.
زه د همدې ليکني په پای کي بايد عرض کړم چي احمد بن حسن ميمندي د کندهار د ميوند دئ. قبر ئي موجود دئ. د قصر و باغ کنډوالي ئي موجودي دي. د پښتو الفبې په ايجاد کي ئي د هڅو روايت تر اوسه پياوړی ملاتړ موندلی نه دئ. ددغو موضوعاتو په باب ما د خپل صلاحيت په حدودو کي دلايل په دوو درو برخو کي وړاندي کړل. نور نو د منلو او نه منلو قضاوت په لوستونکو پوري اړه لري . که څوک زما په دغه راوړل سوي استدلال قانع نه سي، په کتاب ليکلو هم نه قانع کېږي. زه زما له خوا همدغه ټاکلي مشخصه موضوع ختمه اعلانوم. که نور مسايل مخي ته راغلل چي د ليکني ايجاب ئي کاوه، هغه به هغه وخت  او مصلحت ته ګورو.

آټاوا ــ د سپتمبر شپږمه
۲۰۲۳ع


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ